| ENGLISH | PASHTO |
| --- | --- |
| **Patient Information Leaflet for New Patients in the United Kingdom** | **په انګلستان کې د نوو ناروغانو لپاره معلوماتي لاربنود** |
| All people who are new to the UK are offered tests to look for infections which may not make you feel unwell now but could harm you if not found early. | هغه ټولو کسانو ته چې انګلستان ته نوي راغلي وي، داسې طبي ازموینې ورکول کېږي چې هغه انتانات پیدا کړي کوم چې کیداي شي اوس هېڅ نښې و نه لري، خو که ژر ونه موندل شي، ستاسو روغتیا ته زیان رسولی شي. |
| The infections we test for have treatments to cure or control the infection. | هغه انتانات چې موږ یې معاینه کوو د انتان د درملنې یا کنټرول لپاره درمل لري. |
| The tests and treatments are free. | معاینات او درملني وړیا دي. |
| Information about your tests and your results will not be shared with people, outside the National Health Service (NHS), without your consent. | ستاسو د معایناتو او ستاسو د پایلو په اړه معلومات به ستاسو له رضایت پرته د ملي روغتیا خدماتو (NHS)څخه بهر له خلکو سره شریک نشي. |
| If you have any of these infections it will not prevent you applying to remain in the UK. | که تاسو د دې انتاناتو څخه کوم یو لرئ نو دا به ستاسو په انګلستان کې د پاتې کیدو غوښتني کولو مخه ونه نیسي. |
| Different areas of the UK offer a different range of tests. | د انګلستان مختلفې سیمې د معایناتو مختلفی لړۍ وړاندې کوي. |
| Below is a list of tests offered to most people arriving in the UK for the first time. | لاندې د هغو معایناتو لیست دی چې ډیرو خلکو ته وړاندې کیږي چې د لومړي ځل لپاره انګلستان ته راځي. |
| Being tested is optional. | ازموینه اخیستل اختیاري ده. |
| We advise tests to protect your health in the future. | موږ په راتلونکي کې ستاسو د روغتیا ساتنې لپاره د معایناتو مشوره ورکوو. |
| Most tests are done by taking a small amount of blood from you, which your body will easily and quickly replace without you coming to any harm. | ډیری معاینات ستاسو څخه د لږ مقدار وینې په اخیستلو سره ترسره کیږي، کوم چې ستاسو بدن په اسانۍ او چټکۍ سره بدل کړي پرته له دې چې تاسو ته کوم زیان ورسیږي. |
| Some tests require a urine sample. | ځینې معاینات دتشوبولو نمونې ته اړتیا لري. |
| All new arrivals to the UK have the right to register for a GP (a family doctor who can give you medical help and advice, for free, in your local community). | انګلستان ته ټول نوي راغلي کسان حق لري چې د GP) د کورنۍ ډاکټر چې کولی شي تاسو ته ستاسو په سیمه ایزه ټولنه کې وړیا طبي مرسته او مشوره درکړي (لپاره نوم لیکنه وکړي. |

# Tuberculosis

## What is it?

Tuberculosis (TB) is an infection caused by bacteria which are released into the air when someone with an infection coughs or sneezes.

Pulmonary TB (in the lungs or throat) is the only form of the illness that is infectious, but TB can affect any part of the body.

If left untreated, TB is a serious illness, but it is curable with antibiotics.

We will ask you questions to assess if you could have active TB.

We may offer you a chest x-ray or other investigations to find out if you have it.

You may not have active (infectious) TB, but you may have been exposed to it in the past (‘latent TB’).

## How could I catch it?

TB spreads between people in the air.

People with TB may not know they are ill at the time and you may have been exposed to the illness without knowing it.

## What treatment is available?

TB can be fatal without treatment but can be cured with tablets.

Treatment is usually effective however it lasts at least six months and maybe longer depending on where TB is found in the body.

Treatment for TB is usually a mixture of four antibiotics.

After two months of being on this treatment, patients may then be moved on to a course of two antibiotics for at least four months.

In the UK, TB treatment is free to everyone, regardless of immigration status.

# نري رنځ Tuberculosis

## دا څه شي دي؟

Tuberculosis (TB) يوناروغي ده چې د باکتريا له امله رامينځته کيږي چې په هوا کې خوشې کيږي کله چې يو څوک په دې ناروغۍ اخته وي ټوخی يا پرنجی کوي.

د سږو ) TBپه سږو يا ستوني کې (د ناروغۍ يوازينۍ بڼه ده چې ساري ده، مګر TB کولی شي د بدن په هره برخه اغيزه وکړي.

که چيرې درملنه ونشي، TB يوه جدي ناروغي ده، خو د انټي بيوټيکونو په واسطه يې درملنه کېدای شي.

موږ به له تاسو څخه پوښتنې وکړو ترڅو دا ارزونه وکړو چې ايا تاسو فعال TB لرئ.

موږ کيداي شي تاسو ته د سينې ايکس رې يا نورې معاينې وړاندې کړو ترڅو معلومه کړو چې تاسو يې لرئ.

تاسوکيداي شي فعال)ساری‌TB( ونلرئ، خوکيداي شي په تيرووختونوکې تاسو ورسره مخ شوي ياست )‘پټ .(TB

## څنګه زه په دي ناروِغي اخته کيداي شم؟

TB د هوا له لارې د خلکو ترمنځ خپريږي.

هغه خلک چې په TB اخته دي کيداي شي په هغه وخت کې نه پوهيږي چې دوی ناروغه دي اوکيداي شي تاسو دې ناروغۍ سره مخ شوي ياست پرته لدې چې پوه شئ.

## کومه درملنه شتون لري؟

کيدای شي TBد درملنې پرته وژونکی وي خوکيدای شي د ګوليو سره يی درملنه وشي.

درملنه معمولا مؤثره وي خودا لږترلږه شپږ مياشتې او کيدای شي ډير دوام وکړي، پدې پورې اړه لري چې په بدن کې TB چيرته موندل کيږي.

د TBدرملنه معمولا د څلورو انټي بيوټيکونو مخلوط وي.

د دې درملنې له دوه مياشتو وروسته، ناروغان بيا لږترلږه د څلورو مياشتو لپاره د دوو انټي‌بيوټيکونو کورس ته دوام ورکړئ.

په انګلستان کې، د TB درملنه د هرچا لپاره وړيا ده، پرته له دې چې د کډوالۍ حالت په پام کې ونيول شي.

### Can it be prevented?

If you have latent TB, treatment will prevent you from developing infectious TB.

If you have active (infectious) TB, you should isolate until you are no longer infectious.

This is usually only a few weeks and you will be supported throughout your isolation.

### ایا ددې مخنیوی کیدای شي؟

که تاسو پټ TB لرئ، درملنه به ستاسو د ساري TB د خپرېدو مخه ونیسي.

که تاسو فعال (ساريTB ) لرئ، نو تاسو باید تر هغه وخته پورې جلا شئ تر څو چې تاسو نور ساري نه یاست.

دا معمولا یوازې څو اونۍ وي او ستاسو د جلاوالي په اوږدو کې به ستاسو ملاتړ وشي.

## Infections found in your blood

HIV, Hepatitis B and Hepatitis C viruses can pass from person to person through blood, semen or vaginal fluids.

These viruses can pass:

From mother to baby during birth or infancy

By having sex without a condom

By sharing items contaminated with infected blood e.g needles, or razors.

## ستاسو په وینه کې موندل شوي انتانات

دHIV, Hepatitis B اوHepatitis C ویروسونه دوینې،منی یا داندامونود مایعاتوله لارې له یوکس څخه بل ته لیږدول کیدای شي.

دا ویروسونه انتقالېدای شي:

د مور څخه ماشوم ته د زیږون یا ماشومتوب په وخت کې

د کانډوم پرته جنسي اړیکه نیولو سره

د هغو شیانو د شریکولو له لارې چې د ناروغ وینې سره ککړ شوي وي، لکه ستنې یا پاکی.

## Hepatitis B

### What is it?

Hepatitis B virus can infect the liver.

Many people will clear the virus without treatment, but in some people, the virus can cause liver damage and liver cancer.

In most people it will cause no symptoms so you may not know if you have it.

### What treatment is available?

Hepatitis B does not have a cure, but it can be controlled.

If you have a high level of Hepatitis B virus or any liver damage, you will be offered treatment with tablets to control the virus.

## Hepatitis B

### دا څه شي دي؟

Hepatitis B ویروس کولی شي ځیګر متاثره کړي.

ډېری خلک به ویروس پرته له درملنې له بدنه پاک کړي، خو په ځینو خلکو کې دغه ویروس کولی شي د ځیګر زیان او د ځیګر سرطان رامنځته کړي.

په ډېرو خلکو کې دا هېڅ نښې نه ښیي، نو کېدای شي تاسو و نه پوهېږئ چې دا لرئ.

### کومه درملنه شتون لري؟

Hepatitis B درملنه نلري، خو کنټرول کیدای شي.

که په تاسو کې د Hepatitis B ویروس کچه لوړه وي یا که ستاسو ځیګر زیانمن شوی وي، نو تاسو ته به د ویروس د کنټرول لپاره د ګولیو درملنه وړاندې شي.

Treatment can prevent liver failure and liver cancer.

درملنه کولی شي د ځیګر ناکامي او د ځیګر سرطان مخنیوی وکړي.

Your doctor or nurse specialist will give you more information about treatment if it is required.

که اړینه وي، ستاسو ډاکټر یا نرس متخصص به تاسو ته د درملنې په اړه نور معلومات درکړي.

### Can it be prevented?

### ایا ددې مخنیوي کیدای شي؟

A vaccine to protect you from Hepatitis B is available and is free of charge.

د Hepatitis B څخه ستاسو د ساتنې لپاره واکسین شتون لري او وړیا دی.

## Hepatitis C

## Hepatitis C

### What is it?

### دا څه شي دي؟

Hepatitis C is a virus which affects the liver.

Hepatitis C یو ویروس دی چې ځیګر اغیزمن کوي.

Many people do not have symptoms until the liver has been significantly damaged.

ډېر خلک تر هغه وخته پورې نښې نښانې نه لري تر څو چې د دوی ځیګر جدي زیانمن شوی نه وي.

A blood test is the only way to know you have the virus.

د وینې معاینه یوازینی لار ده چې پوه شئ چې تاسومیکروب لرئ.

### What treatment is available?

### کومه درملنه شتون لري؟

Hepatitis C can be treated with antiviral tablets over 8 – 12 weeks.

Hepatitis C درملنه د 8 څخه تر 12اونیو پورې د انټي ویروس ضد ګولیو په مرسته کېږي.

This usually cures the infection.

دا معمولا د انتان درملنه کوي.

Early treatment will prevent serious complications such as liver damage, liver failure or liver cancer.

ژر درملنه به جدي ستونزې لکه د ځیګر زیان، د ځیګر ناکامي، یا د ځیګر سرطان مخه ونیسي.

### Can it be prevented?

### ایا ددې مخنیوي کیدای شي؟

There is currently no vaccine or medications available to prevent you being infected with this virus.

اوس مهال داسې کوم واکسین یا درمل نشته چې تاسو د دې ویروس څخه وژغورې.

Being treated for the infection does not prevent you from acquiring it again in future.

د دې ناروغۍ درملنه په راتلونکي کې ستاسو د بیا اخته کیدو مخه نه نیسي.

## Human Immunodeficiency virus (HIV)

## د انسان د معافیت کمښت ویروس (HIV)

### What is it?

### دا څه شي دي؟

HIV is a virus which over time can affect your immune system, which is your body's ability to protect you from infections.

HIV يو ويروس دی چې د وخت په تېرېدو سره ستاسو د معافيت سيستم اغېزمنوي، چې ستاسو د بدن وړتيا ده چې تاسو د انتاناتو څخه ژغوري.

You often do not feel unwell straight away.

تاسو ډېرى وخت سمدلاسه ځان ناروغه نه احساس کوئ.

However, if you have this infection you can be given treatment which controls the virus.

سره له دې، که تاسو دا ناروغي لرئ نو تاسوته داسې درملنه ورکول کيدای شي چې ويروس کنټرول کړي.

This stops it from causing you harm and prevents you from passing it on to other people.

دا درملنه ددې مخه نيسي چې ويروس تاسو ته زيان ورسوي اوداهم مخنيوی کوي چې تاسويې نوروته انتقال کړئ.

## What treatment is available?

## کومه درملنه شتون لري؟

There are different treatments available, usually a single tablet once a day.

مختلفې درملنې شتون لري، معمولا په ورځ کې يو ځل يو ګولي.

This cannot cure the infection but can control the virus so that we can no longer detect it in the blood, and it cannot pass on to other people.

دا درملنه نه شي کولای انتان بشپړ له منځه يوسي، خو کولی شي ويروس کنټرول کړي تر دې چې دا نور په وينه کې ونه موندل شي، او نوروخلکو ته انتقاليدای نه شي.

If treatment is started early, you can have a normal life expectancy and your immune system function will stabilise and, in most cases, improve.

که چيرې درملنه ژر پيل شي، نو تاسو کولی شئ د ژوند عادي تمه ولرئ او ستاسو د معافيت سيستم فعاليت به ثبات ومومي او په ډيری مواردو کې به ښه شي.

## Can it be prevented?

## ايا ددې مخنيوې کيدای شي؟

There is no vaccine currently available.

اوس مهال هيڅ واکسين شتون نلري.

If you are at risk of HIV you can get medication to reduce the risk of infection.

که تاسو د HIV خطر سره مخ ياست، تاسو کولی شئ د انتان خطر کمولو لپاره درمل ترلاسه کړئ.

## Your Entitlements

## ستاسو حقونه

Free HIV treatment and follow-up

د HIV وړيا درملنه او تعقيب

If you are found to have acquired HIV this does not affect your right to apply for asylum in the UK

که وموندل شي چې تاسو په HIV اخته ياست، نو دا به ستاسوپه انګلستان کې د پناه غوښتنې پر حق هيڅ اغيزه ونه کړي

Your HIV status will not affect your right to work in the UK

ستاسودHIV حالت به په انګلستان کې ستاسو د کار کولوحق اغيزمن نه کړي

You will have access to free specialist care with regular, private and confidential follow up from non-hostile and non-judgmental health care professionals.

تاسو به وړيا تخصصي پاملرنې ته لاسرسی ولرئ، چې منظم، شخصي او محرم تعقيبي خدمات به وراندې کوي، او دا ټول به له دښمنۍ او قضاوت څخه پاک روغتيايي کارکوونکي ترسره کوي.

If you already know you have HIV, it is important that you tell your GP as soon as possible so you can continue treatment and see an infection specialist.

# Syphilis

## What is it?

Syphilis is a bacterial infection passed through sexual contact.

Symptoms change over time and can include painless sores or ulcers, swollen lymph glands, fever and weight loss.

Symptoms can involve all parts of the body at different stages but some people do not have any symptoms.

If you have a sexual partner, they will also need to be tested for syphilis and they will be offered testing and treatment.

If you are pregnant and have syphilis, you can pass it onto the baby before it's born and increase the risk of miscarriage, premature birth and stillbirth.

## How could I catch it?

You can get syphilis by having vaginal, anal or oral sex with someone who has the infection.

## What treatment is available?

Syphilis is curable with antibiotics which are usually given by injection.

You may need to get repeat testing at 6 and 12 weeks after treatment to ensure the infection has been cured.

## Can it be prevented?

There is currently no vaccine or medication available to prevent you from getting this infection.

که تاسو دمخه پوهیږئ چې تاسو HIV لرئ ،دا مهمه ده چې ژرترژره خپل ډاکټرته ووایاست ترڅو ستاسودرملنی ته دوام ورکړئ اود انتاناتومتخصص وګورئ.

# Syphilis

## دا څه شي دي؟

Syphilis یوه باکتریایي ناروغي ده چې د جنسي اړیکو له لارې انتقالیږي.

نښې نښانې له وخت سره بدلیږي، او بې‌درده زخمونه یا دانه‌وې، د لمف عقدو پړسوب، تبه، او د وزن کموالی شاملېدای شي.

نښې نښانې کولی شي د بدن ټولې برخې په بېلابېلو پړاوونو کې اغېزمنې کړي، خو ځینې خلک هېڅ نښې نه لري.

که تاسوجنسي ملګری لرئ، نوارینه ده چې هغه هم دsyphilis لپاره معاینه شي،ویاو دوی ته به دمعاینې او درملنې وړاندیز وشي.

که تاسو حامله داره یاست او syphilis ولرئ، نو کیدای شي دا ناروغي د زیږون څخه مخکی ماشوم ته انتقال شی.ٔدا د سقط، وخت څخه مخکې زیږون، او مړ زیږون خطر زیاتوي.

## څنګه زه په دي ناروِغي اخته کیداي شم؟

Syphilis هغه وخت انتقالیږي چې تاسود مهبل، مقعد یا خولې له لارې له داسې کس سره جنسي اړیکه ولرئ چې په دې ناروغۍ اخته وي.

## کومه درملنه شتون لري؟

Syphilis د انټي بیوټیکونو سره د درملنې وړ ده کوم چې معمولا د پیچکاري په واسطه ورکول کیږي.

تاسو باید له درملنې وروسته، په 6 او 12اونیو کې بله معاینه وکړئ ترڅو یقیني شي چې ناروغي ختمه شوې ده.

## ایا ددې مخنیوي کیدای شي؟

اوس مهال هیڅ واکسین یا درمل شتون نلري چې تاسو د دې ناروغۍ څخه وژغوري.

Syphilis can be prevented by using condoms when you have sex, and also by getting tested once a year, or if you have a new sexual partner.

د سیفیلس مخنیوی کیدای شي د جنسي اړیکې پر مهال د کنډوم په کارولو، او همدارنګه هر کال یو ځل د معاینې کولو یا د نوي جنسي ملګري لرلو په صورت کې وشي.

## Strongyloides

## سټرانګلایډز

### What is it?

### دا څه شي دي؟

Strongyloides is a parasitic worm which usually lives in soil (but is too small to see) and infects you through your skin.

سټرانګلایډز یو پرازیتي چینجي دی چې معمولا په خاوره کې ژوند کوي )خو د لیدو لپاره ډېر کوچنی دی (او د پوستکي له لارې بدن ته ننوځي او تاسوپه اخته کیږئ.

It enters your lungs and intestines via your bloodstream.

دا د وینې جریان له لارې ستاسو سږو او کولمو ته ننوځي.

It can cause skin or digestive symptoms that can come and go.

دا کولی شي د پوستکي یا هضم ستونزې رامنځته کړي چې ځینې وخت رابښکاره او ځینې وخت ورک شي.

Some infections can become chronic and last for years or even be fatal.

ځینې انتانات کولای شي اوږدمهاله شي اوکلونه کلونه پاتې شي یا حتی وژونکي هم وي.

Tests for Strongyloides include testing different bodily fluids for signs of the worm, such as stool and blood.

د سټرونګیلایډس د ناروغۍ د تشخیص لپاره د بدن بېلابېلو مایعاتو معاینه کېږي، لکه غایطه مواد او وینه، ترڅو د چینجي نښې ومومل شي.

### How could I catch it?

### څنګه زه په دي ناروِغي اخته کیداي شم؟

Walking bare foot in contaminated soil in tropical and subtropical locations or having a weakened immune system can put you at risk of getting Strongyloides infection.

په استوایي او نیمه استوایي سیمو کې په ککړه خاوره کې لوڅې پښې ګرځول یا د معافیت سیستم کمزوري کېدل کولی شي ستاسو د سټرونګیلایډز انتان خطر زیات کړي.

### What treatment is available?

### کومه درملنه شتون لري؟

Strongyloides is easily treated with an anti - parasitic medication in tablet form.

سټرانګلایډز په اسانۍ سره د ګولي په بڼه د پرازیت ضد درملو په مرسته درملنه کېږي.

### Can it be prevented?

### ایا ددې مخنیوي کیدای شي؟

Strongyloidiasis can't always be prevented.

د سترونګیلایډیا ناروغي تل مخنیوی نشي کېدای.

However not walking barefoot when traveling to warm or tropical climates can reduce your risk of infection.

خو ګرمو یا استوایی اقلیمونو ته د سفر پرمهال لوڅې پښې نه ګرځېدل کولی شي ستاسو د انتان خطر کم کړي.

## Schistosomiasis

## شیسټوسومیاسس

### What is it?

### دا څه شي دي؟

Schistosomiasis, sometimes known as bilharzia, is an infection caused by a parasitic worm.

شیسټوسومیاسس، چې ځینې وختونه د بلهارزیا په نوم پېژندل کېږي، یوناروغي ده چې د پرازیتي چینجي له امله رامنځته کېږي.

The parasite lives in fresh water (such as rivers and lakes) in subtropical and tropical regions.

پرازیت په تازه اوبو کې )لکه سیندونو او جهیلونو (کې، چې د استوايي او نیمه استوايي سیمی وي، ژوند کوي.

Symptoms may include a red itchy rash, high temperature, cough, diarrhea, abdomen and joint pain.

نښې نښانې کېدای شي سور او خارښ لرونکی پوست، لوړه تبه، ټوخی، اسهال، د معدې درد او د بندونو درد پکې شامل وي.

The parasite can remain in the body for many years and cause damage to the bladder, kidneys and liver and some types increase your risk of developing bladder cancer.

دا پرازیت کولی شي د ډیرو کلونو لپاره په بدن کې پاتې شي او مثانې، پښتورګو او ځيګر ته زیان ورسوي او ځینې ډولونه یې د مثانې د سرطان خطر زیاتوي.

Schistosomiasis is usually diagnosed by a blood test but can also be diagnosed by finding parasite eggs in your urine or stool sample.

د شیسټوسومیاسس تشخیص معمولاً د وینې د معاینې له لارې کېږي، خو دا ناروغي کېدای شي د ادرار یا د غایطې موادو په نمونه کې د پرازیتي هګیو په موندلو سره هم تشخیص شي.

### How could I catch it?

### څنګه زه په دي ناروِغي اخته کیداي شم؟

You become infected if you come into contact with contaminated fresh water in subtropical and tropical regions, for example when swimming, paddling or washing.

تاسو هغه وخت اخته کېږئ که له ککړو تازه اوبو سره چې په استوایی او نیمه استوایی سیمو کې وي، تماس ومومئ.لکه د بیلګې په توګه د لامبو، پښو لمدولو، یا مینځلو پرمهال.

### What treatment is available?

### کومه درملنه شتون لري؟

It can be cured with a short course of an anti-parasitic medication.

دا د پرازیتي ضد درملو د لنډ کورس سره درملنه کیدای شي.

Sometimes treatments may need to be repeated after a few weeks.

ځینې وختونه درملنې کیدای شی د څو اونیو وروسته تکرار ته اړتیا ولري.

### Can it be prevented?

### ایا ددې مخنیوي کیدای شي؟

There is currently no vaccine or medication available to prevent you from getting this infection.

اوس مهال هیڅ واکسین یا درمل شتون نلري چې تاسو د دې ناروغۍ څخه وژغوري.

People who travel to areas affected by schistosomiasis should avoid swimming, drinking and washing in fresh water that is likely to be contaminated.

هغه کسان چې د شیسټوسومیاسس له اغېزمنو سیمو څخه لیدنه کوي، باید له هغو تازه اوبو سره د لامبو، څښاک او مینځلو څخه ډډه وکړي چې احتمالاً ککړې وي.

## Infections detected in your urine

## ستاسو په ادرار کې انتاني نښې موندل شوي دي

## Chlamydia/Gonorrhea

## کلمېډیا/ سوزاک

## What is it?

Chlamydia and gonorrhea are common sexually transmitted bacterial infections.

Symptoms of both include pain when urinating, unusual discharge from the vagina, penis or anus, stomach pain, pain in the testicles or red eyes.

However they can be asymptomatic.

The test for chlamydia and gonorrhea is simple and painless.

It involves swabbing the affected areas (vagina, anus, throat) and/or giving a urine sample.

You can perform the swab yourself and it will be explained to you how to do this at your appointment.

## How could I catch it?

They are both passed on through unprotected (without a condom) vaginal, anal or oral sex.

## What treatment is available?

Chlamydia and gonorrhea are treated with antibiotics but if left untreated can be passed on to other sexual partners.

You should avoid having sex for 1 week after you and your partners have been treated.

Some strains of gonorrhea have become resistant to antibiotics and you may require repeat testing 3 weeks after treatment to make sure the antibiotics have worked.

## Can it be prevented?

Chlamydia and gonorrhea can be prevented by using condoms when you have sex.

Getting tested once a year, or if you have a new sexual partner, can prevent the spread of infection.

## دا څه شي دي؟

کلامیډیا اوسوزاک د جنسي اړیکوله لارې لیږدول شوي عام باکتریایي انتانات دي.

د دواړو نښو نښانو کې د ادرار کولو پر مهال درد، د مهبل، تناسل یا مقعد څخه غیر معمولي خارجیدل، د معدې درد، په خصیو کې درد یا د سترګو سوروالی شامل دي.

خو کېدای شي هغوی هېڅ نښې نښانې و نه لري.

د کلامیډیا او سوزاک لپاره معاینه ساده او بې درده ده.

په دې کې د اغیزمنو سیمو )مهبل، مقعد، ستوني (پاکول اویا د ادرار نمونه ورکول شامل دي.

تاسو کولی شئ سویب پخپله ترسره کړئ او دا به تاسو ته تشریح شي چې دا څنګه ستاسو په ملاقات کې ترسره کړئ.

## څنګه زه په دې ناروِغي اخته کیداي شم؟

دا دواړه د ناخوندي )بې له کنډومه (مهبلي، مقعدي یا خولې له لارې انتقالیږي.

## کومه درملنه شتون لري؟

د کلمیډیا او سوزاک درملنه د انټي بیوټیکونو سره کیږي خو که درملنه یې ونشي نو نورو جنسي ملګرو ته لیږدول کیدای شي.

تاسو او ستاسو ملګری باید د درملنې وروسته د 1اونی لپاره له جنسي اړیکی څخه ډډه وکړئ.

د سوزاک ځینې ډولونه د انټي بیوټیکونو په وړاندې مقاومت لري او تاسو ممکن د درملنې څخه 3 اونۍ وروسته بیا معاینی ته اړتیا ولرئ ترڅو ډاډ ترلاسه کړئ چې انټي بیوټیکونه کار کړی دی.

## ایا ددې مخنیوي کیدای شي؟

د جنسي اړیکو پر مهال د کنډوم په کارولو سره د کلامیډیا او سوزاک مخه نیول کیدای شي.

په کال کې یو ځل معاینه کول، یا که تاسو نوی جنسي ملګری لرئ، کولی شي د انتان د خپریدو مخه ونیسي.

Testing, treatment and all forms of contraception including condoms are free in the UK.

You can get access to them from your GP or local sexual health clinic.

په انګلستان کې معاینه، درملنه او د حمل مخنیوي ټول ډولونوپه شمول کنډوم وړیادي.

تاسو کولی شئ د خپل ډاکټر یا سیمه ایز جنسي روغتیا کلینیک څخه ورته لاسرسی ومومئ.